مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۳/۱۹

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (شلسمه برخه)

### سید محمد اسماعیل بلخي

د ۱۹۲۰ز کال په شاو خوا کې په بلخ کې زېږېدلی دئ. د شیعه ګانو په مدارسو کې ئې د الهیاتو زده کړې تر سره کړي دي.  دی یو آزاد خیاله واعظ وو چې په ۱۹۴۸ز کال کې کابل ته راغی. د اسمٰعیل بلخي د جمعو د ورځو مواعظ د چنداول په عمومي تکیه خانې کې تر سره کېدل او ویل کېدل چې د شیعه ځوانانو په منځ کې ئې شهرت ګټلی وو. په ۱۹۵۰ز کال کې د شاه محمود د وژلو د هڅې په تور زنداني سو او تر ۱۹۶۴ز کال پورې زنداني وو او په همدې کال د صدراعظم یوسف له پلوه خوشې سو. په جمال مینه کې ئې یو اسلامي مرکز جوړ کړ. دی د شیعه ټولنې ویاند وو. په ۱۹۶۸ز کال کې په کابل کې وفات سو. زوی ئې علي آقا بلخي په ۱۹۷۸ز کال کې ووژل سو.

### ډګرمن خان آقا بندیزی/ باندېزی [1]

د غوایي له پاڅون وروسته د هرات د اومې فرقې، پوځي بولندوی.

### ډاکټر سید احمد شاه بنوري

د میر محمد شاه بنوري زوی، په ۱۹۳۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۴۲ تر ۱۹۴۸ز کال پورې ئې لومړنی ښوونځی لوستی او له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۵ز کال پورې ئې لیسه په کابل کې لوستې ده.  له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د سوداګریزو چارو په وزارت کې رسمي مأمور. په ۱۹۶۱ز کال کې ئې خپل لیسانس په ریاضیاتو او طبیعي علومو کې تر لاسه کړ. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د کابل پوهنتون د اقتصاد په پوهنځي کې تحصیل وکړ. په ۱۹۶۳ز کال کې جرمني ته لاړ او په ۱۹۷۰ز کال کې ئې «ډیپلوما» تر لاسه کړه. په ۱۹۷۴ز کال کې ئې د "کولن" [2] له پوهنتون څخه خپله دکتورا تر لاسه کړه.  په ۱۹۷۴ز کال کې ئې خپل (اثر) [3] ولیکهٔ.

---

[1] -Lt.Col. Khan Aqa Bandizai
[2] - Cologne University
[3] - Moeglichkeitn und probleme der kapitalsbildung in Mittelalsien 1974


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

## عبدالباقي باقي

د عبدالله قائل زوی، په ۱۹۱۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. له خپل اکا میرزا سلطان محمد خان څخه ئې لیک لوست زده کړل. په ۱۹۲۰ز کال کې لومړني ښوونځي ته لاړ. د ښکلو هنرونو ښوونځي ئې ولوست او نقاش سو. د ځلورو کالو لپاره د غالی اوبدلو د ځانګي ښوونکی وو. بیا په «شرکتِ قند» کې په کار استخدام سو. په ۱۹۴۹ز کال کې ړوند سو او کار ئې خوشي کړ.

## میر سعید بریمن

د ستوري، پروان، اتحادِ مشرقي او د ننګرهار د ورځپاڼو محرر. د هېواد د ورځپاڼې محرر. د بیهقي د کتاب چاپولو د مطبعې رئیس. خصوصي زده کړې ئې کړي او هم ئې لومړنی ښوونځی لوستی دئ. په پېښور کې له مجاهدینو سره یو ځای سو. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

## حاجي عبدالقدوس بارکزی

د بارکزیو د قبیلې یو له ډېر مهمو مشرانو څخه دئ. د ظاهر شاه پر مهال په کندهار کې قاضي وو. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۳ز کال پورې سناتور. په ۱۹۷۸ز کال کې کویټي ته کډه سو او په مقاومت کې ډېر فعال وو. په ۱۹۸۱ز کال کې ئې د ظاهر شاه د راستنیدلو په هیلې د لویې جرګې د جوړولو کوښش وکړ. ویل کېږي چې زوی ئې عبدالملک/عبدالمالک بارکزی په ۱۹۷۹ز کال کې د خلقیانو له پلوه ووژل سو.

## محمد حسن بارق شفیعي

د میرزا محمد شریف زوی په ۱۹۳۲ز کال کې د کابل په ریکا خانې کې زېږېدلی دئ. تر شپږم ټولګي پورې د غازي لیسې ته تللی دئ. بیا ئې د څو کالو لپاره په یوې دیني مدرسې کې درس وواېه. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د روان دېار وړلو له کمپنی سره کار وکړ. په راډیو افغانستان کې ئې ددیني پروګرامونو د انونسر په توګه کارو کړ. په ۱۹۵۹ز کال کې ئې د عسکري د مکلفیت دوره تېره کړه. د کابل ننداري (تیاتر) مرستیال مدیر. په ۱۹۶۲ز کال کې د ژوندون د مجلې محرر. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د کانونو او صنایعو په وزارت کې د فوتو ګرامتري (د عکاسي له مخې نقشه جوړول ــ) او کارتوګرافیک انستیتیوت رئیس. په ۱۹۶۵ز کال کې د پښتون ږغ د مجلې محرر. د «پیغام روز» مسؤول مدیر. په ۱۹۶۰ز کال کې د ببرک د سازمان غړی. په ۱۹۶۶ز کال کې د خلق د جریدې محرر. مخکښ افغان شاعر. په ۱۹۷۸ز کال کې د اطلاعاتو او کلتور وزیر. د ۱۹۷۹ز کال په اپریل کې د ترانسپورت وزیر. دی هغه پرچمی وو چې د ۱۹۷۸ز کال د آګست په میاشت کې د کارمل له غندلو او تقبیح کولو وروسته بیا هم په خپل کار پاتې سو. په ۱۹۸۰ز کال کې د مرکزي کمیټې له بشپړ غړیتوب څخه د لنډ مهال لپاره علی البدل غړي ته تنزیل - مقام سو. د انقلابي شورى غړی، او په ۱۹۸۲ز کال کې د پلار وطني ملي جبهې د مرکزي شوری لومړی مرستیال رئیس. د شمال لویدیځ زون آمر او د هرات والي.لور ئې نور احمد نور ته وادهٔ سوې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## امیر احمد برید (رنا)

د سردار نور احمد نوري زوی، په ۱۹۱۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په لومړیو کې ئې د «رنا» تخلص کاوهٔ خو په ۱۹۴۸ز کال کې ئې د «برید» تخلص غوره کړ. دی د غزلیاتو یو مشهور شاعر دئ.

## ډاکټر قیام الدین راعي برلس

د محمد اسمٰعیل مخدوم زوی په ۱۹۴۰ز کال کې د سمنگانو په تاشقرغان کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئې په تاشقرغان کې تر سره کړې دي. په ۱۹۵۷ز کال کې له دار المعلمینو فارغ سو. په ۱۹۶۳ز کال کې ئې د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه خپل لیسانس په دري ژبې کې ترلاسه کړ؛ په ۱۹۶۶ز کال کې ئې خپله ماستري په چینایي ژبې کې د پیکنگ له پوهنتون څخه تر لاسه کړه؛ په ۱۹۷۶ز کال کې ئې خپله دکتورا د استانبول له پوهنتون څخه د تورکي په ژبې او ادبیاتو کې تر لاسه کړه. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي مدرس او له ۱۹۷۶تر ۱۹۸۰ز کال پورې بیا هم ددې پوهنځي مدرس. د ۱۹۷۵ز کال د لویې جرگې غړی. په ۱۹۸۰ز کال کې د تورکیې د استانبول په پوهنتون کې د ادبیاتو په پوهنځي کې د فارسي ژبې مدرس. د گڼ شمېر مقالاتو لیکوال.

## ډاکټر نور احمد برېــښ

د حاجي گل محـمد زوی، په ۱۹۲۸ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ (حاجي گل محـمد یو ځل د کندهار ښاروال او د بغلان د بورې جوړولو د کمپنی رئیس وو او د فیض محمد انگار وړور (د انگار د ورځپاڼي محرر). د حـبیبیې له لیسې او د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د علي آباد د روغتون د طب ډاکټر او د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي مدرس. په ۱۹۷۰ز کال کې ئې په لویدیځ برلین کې ئې دوه کلنه طبي روزنه تر لاسه کړه. په ۱۹۷۵ز کال کې د داخله طب پوهندوی او په ۱۹۸۳ز کال کې پوهاند. له ۱۹۸۳ز کال را په دېخوا د طب د پوهنځي دداخله طب ددیپارتمنت رئیس. په ۱۹۸۵ز کال کې د لویې جرگې د تابیا د کمیټې غړی او د لویې جرگې غړی. د گڼ شمېر مقالاتو لیکوال. له یوې محمدزۍ مېرمنې سره ئې وادهٔ کړی دئ او څو بچیان لري.

## محمود بریالی

په ۱۹۴۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۲ز کال کې د حبیبیې له لیسې څخه فارغ سوی دئ او ورپسې د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي کې شامل سو. په ۱۹۶۵ز کال کې د خپلو سیاسي فعالیتونو له کبله زنداني سو. له هماغه پېل څخه د خلق دیموکراتیک گوندغړی وو. په ۱۹۶۶ز کال کې د کابل پوهنتون د اقتصاد له پوهنځي څخه فارغ سو او د پلان د وزارت رسمي مامور سو. یو ځل بیا د خپلو سیاسي فعالیتونو له کبله زنداني سو. په ۱۹۷۳ز کال کې بېرته د پلان وزارت ته راغی. شوروي اتحاد ته د تحصیل لپاره لاړ او خپله ماستري ئې په سیاسي اقتصاد کې په ۱۹۷۷ز کال کې تر لاسه کړه. په ۱۹۷۵ز کال کې د خلق د گوند د مرکزي کمیټې علی البدل غړی سو او په ۱۹۷۷ز کال کې د گوند د مرکزي کمیټې دائمي غړی سو. د ۱۹۷۸ز کال د جولای په میاشت کې د پاکستان سفیر. د ۱۹۷۸ز کال د اکتوبر په میاشت کې بېرته هېواد ته راوبلل سو. د حفیظ الله د واکمنۍ پر مهال د رژیم له پلوه له گوند څخه اخراج سو. په ۱۹۸۰ز کال کې د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند د نړۍ والو اړیکو د کمیټې مشر. په ۱۹۸۰ز کال کې د مرکزي کمیټې او د انقلابي شورې غړی. په ۱۹۸۰ز کال کې د «حقیقت انقلاب ثور» د ورځپاڼي محرر. په ۱۹۸۱ز


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کال کې د سیاسي بیرو على البدل غړی. بريالی په انګلیسي او روسي ژبو خبرې کوي؛ د پرچم په جریدې کې ئې ځو مقالې خپرې سوې او له روسي ژبې څخه ئې يو شمېر علمي آثار هم ژباړلي دي. د ببرک کارمل ناسکه ورور او د اناهیتا راتب زاد له لور زرغوني سره ئې وادهٔ کړی دی.

## ډاکټر خدایداد بشرمل

په ۱۹۸۰ز کال کې د ننګرهار د درې د پرمختیايي پروژې رئیس. د مرکزي کمیتې على البدل غړی. د ختیځ زون آمر او د جلال آباد د ولایتي ګوندي کمیتې منشي. په ۱۹۸۶ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت مرستیال وزیر.

## عبدالقيوم بشریار

د آریانا افغان هوايي شرکت رئیس. په ۱۹۸۰ز کال کې د بلخ والي

## بشير بشریار

د غوایي له پاڅون وروسته په ۱۹۷۹ز کال کې د جوزجان والی، په ۱۹۷۹ز کال کې د بلخ والي. د ګوند د ولایتي کمیتې منشي.

## نور بیا

## علي اصغر بشير

د هرات له شیعه ګانو څخه، د علي نظر زوی، په...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلی رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ